# د ښځو د لیک لوست زده کړه د افغانستان په لویدیځ کې پرمخ روانه ده

**Author:** Jalil Mohammadi
ښځو ته د لیک لوست د زده کړې کورسونه د ښځودپوهې دلوړولو برسیره دهغوي په وړاندې تا وتریخوالي هم کموي

په افغانستان کې د آی ډبلیو پي آر د خبریال، جلیل محمدي لیکنه

نذیره هغې کتابچې ته، چې د ملګرو ملتونو نښان وربانديې ښکاري، په ویاړ ګوري  او هغه څوکلمې ښیي چې په سره رنګ لیکل شوي دي.

نذیرې شپږ میاشتې دمخه نه لیکل کولای شول او نه لوستل، خو اوس دا اووه ویشت کلنه مېرمن د افغانستان په  لویدیځ ولایت، هرات کې د خپلو دوو اولادونو، پلار او  مېړه  نومونه لیکلای شي.

د هغې د لیک لوست وړتیا ښایي ابتدایي وي، خو یو فارسي شعر په ډاډ لوستلای شي، چې وایي: «توانا بود هرکه دانا بود»

د ښځو  له زده کړېسره مخالفت د افغانستان په کلیوالي سیمو کې زیات دی، خو د  تېرې لسیزې په بهیر کې په دې لویدیځ ولایت کې د پام وړ ښه والی راغلی دی.

د کورسونو د څارنې لپاره د پوهنې وزارت چارواکي، عبدالنصیر مودودي د وینا له مخې د هرات په ولسوالیو او کلو کې د لیک لوست د زده کړې ۶۶۰ کورسونه شته، چې ۵۵۸ یې د نذیرې په څېر د ښځو  کورسونه دي.

ولایتي چارواکي هیله من دي چې ددې کورسونوله لارې به ښځې په ټولنه کې خپل رول په بشپړ ډول ولوبولای شي او د کورني تاوتریخوالي له منځه وړلو سره به مرسته وکړای شي.

په هر یوه کورس کې له  شلو څخه تر دېرشو تنو پورې زده کړه کوي. نسیمې حسیني د کرخ په ولسوال کې پروسږکال ۲۱ تنو زده کوونکو ته تدریس کاوه.

هغې آی ډبلیو پي آر ته وویل: «د خپلې ټولنې نالوستو مېرمنو ته دخدمت له لارې له خپلې کورن سره د معاش د اخیستلو له لارې هم مرسته کوم. ددې کورسونو له امله د افغان مېرمنو په حالت کې بدلونونه رامنځته شوي دي.»

په کورسونو کې شاملې مېرمنې وايي دا کورسونه هغوی ډېرې پیاوړې کوي. ټول افغان مېړونه خپلو ښځو ته د کار او زده کړې اجازه نه ورکوي. حسینه د خپل میړه، سید نصرالدین نیکنام  د ملاتړ له امله  مننه کوي.

نېکنام د ولسوال د لیک لوست د کورسونو څارنه کوي او د خپلې مېرمنې په مرستې ویاړي. د هغې د کار له امله د هغوی کورني ژوند هم بدلون موندلی دی.

نېکنام وویل: «کله چې زما مېرمن په تدریس بوخته وي، زه د کور کارونه کوم. زما په اند د ښځو د زده کړې په اړه کومه ستونزه نشته.»

 زیاتره کورسونه هرات ښار ته د څېرمه ولسوالیو انجیل، زنده جان او  کرخ  کې دي. مودودي وویل اسلامي عالمان او رسن د ښځو د لیک لوست د زده کړې په کمپاین کې مرسته کوي.

نوموړي کورسونه د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو د صندوق، یونیسیف په مرسته جوړ شوي، په داسې حال کې چې د خوړو نړیواله موسسه د کورسونو برخوالو ته د هڅونې په موخه خوراکی توکی چمتو کوي.  په کرخ کې د لیک لوست د زده کړې د یو کورس کارکوونکي، مکرم وویل، هر زده کوونکي ته هره میاشت کورس ته د حاضرېدو په صورت کې د ۲۵ کیلوګرامه غنم او درې لیتره د پخلی غوړي  ورکول کیږي.

مکرم وویل: «موږ او نورې موسسې دلته دوې موخې لرو: لومړی، له اړو کورنیو سره مرسته او دویم، هغوی ته د لیک لوست ور زده کول.»

خوراکي توکي کورس ته د یو شمېر زده کوونکو د راتګ لپاره ډېر مهم بلل کیږي.

د کرخ د ولسوال د یوه کورس ګډون کوونکې، ۴۰ کلنې ماه ګل  وویل: «کله چې کور ته  غنم او د پخلي تېل یوسم اومېړه مې وګوري، نو ډېر خوشحالیږي.  که د خوراکي توکو د ورکړې خبره نه وای، نو زیاترو مېړونو به خپلې مېرمنې کورسونو ته نه وای پرېښې.»

د خوراکي توکو له ورکړې سره سره په هرات کې زیات شمېر نارینه شته چې د ښځو د زده کړې په اړه زړه نازړه دي.

د ګذرې ولسوال ۴۰ کلنه ګلثوم غواړي لیک لوست زده کړي، خو مېړه یې، محمد نبي هغه نه پرېږدي.

هغه په دې اند دی چې ښځې باید د کور دننه وي او د کور کارونه سرته ورسوي.  نارینه باید خپلو مېرمنو ته اجازه ورنه کړي چې له کوره بهر لاړې شي.

هغه وویل: «زه نالوستی یم. په ژوند کې کومه ستونزه نه لرم.  مېرمنې ته به مې د لیک لوست زده کړه څه ګټه ورسوي؟»

یو شمېر عالمان د داسې عقایدو ننګه کوي.

د ګذرې ولسوال د یوه دیني عالم، مولوي محمد اسمعیل د وینا له مخې «په اسلام کې داسې څه نشته چې ووایي زده کړه د ښځو

لپاره اړینه ده.»

د پوهنې وزارت چارواکی، مودودي، چې د هرات پوهنتون د شرعیاتو له پوهنځي څخه فارغ شوی دا وینا نه مني، وايي کله چې اسلام د علم د اهمیت په اړه بحث کوي، نه د نارینه نوم اخلي او نه د ښځو. وايي علم پر دواړو لازم دی.

د انجیل د ولسوالۍ د غیلوان د کلي دښځو د شورا مشره، خلکو ته  په ټینګه وايي د هغو ملایانو په خبرو پسې ونه ګرځي چې د ښځو له زده کړې سره مخالف دي.

هغې وویل: «دا هغه حق دی چې اسلام موږ ته راکړی دی. زده کړه د هر انسان حق دی.»

درې ځلویښت کلنې شګوفې په یو څه کړاو وکړای شول، خپل مېړه وهڅوي چې هغې ته د زده کړې اجازه ورکړي.

هغې وویل: «د لیک لوست کورسونو ته حاضرېدل ماته ډېر اهمیت لري. له دې امله مې د اجازې د ترلاسه کولو لپاره هلې ځلې وکړې.»

**Topic:** [Women]

**Source URL:** https://iwpr.net/ps/global-voices/%D8%AF-%DA%9A%DA%81%D9%88-%D8%AF-%D9%84%D9%8A%DA%A9-%D9%84%D9%88%D8%B3%D8%AA-%D8%B2%D8%AF%D9%87-%DA%A9%DA%93%D9%87-%D8%AF-%D8%A7%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86-%D9%BE%D9%87-%D9%84%D9%88%D9%8A%D8%AF%D9%8A%DA%81-%DA%A9%DB%90-%D9%BE%D8%B1%D9%85%D8%AE-%D8%B1%D9%88%D8%A7%D9%86%D9%87-%D8%AF%D9%87